ډاکټر عبدالرحمن زماني ۲۰۱۳/۰۸/۰۴

# په آزاد سرحد کې د مومندو مبارزې

(دیارلسمه برخه)

## د مومندو مشهورځایونه او شخصیتونه

دپښتنو داوسیدو سیمه دخپل ستراتیژیک او جغرافیوي موقعیت له کبله ددوي په تاریخ او ژوند باندې ژوره اغیزه درلودلې او لري. مومند هم لکه د نورو پښتنو په شان خپل ویاړلي تاریخ، ادبیات، شاعران او لیکوالان، ځیرونکي، اتلان او زیارتونه لري.

### تاریخي او مشهور ځایونه

دمومندو ایجنسي مشهورې قلاګاني او تاریخي ځایونه ځکه نلري چي دلته هیڅ طاقت هم داوږدې مودې دپاره پاتي شوې ندې تر څو داسي ځایونه جوړ کړي. خو له بلې خوا دتاریخ په اوږدو کې دوې دبیلابیلو طاقتونو سره ډیرې جګړې کړیدي، او په نتیجه کې ګڼ شمیر داسي ځایونه شته چي ددې جګړو له امله دیادوني وړ دي(۱):

**زیارت غاښي:** هغه مهم تاریخي ځاي دئ چي مومندو پکي د بیلابیلو تیري کونکو په وړاندې جرګې کړیدي. ایمل خان مومند هم د مغلو سره دمقابلي دپاره خپل لښکر په همدې ځاي کې راټول کړې و.

**سلاله:** د خوګاخیلو د سیمي مرکز او دجرګو او مرکو ځای وو.

**خاپښ:** چي ایمل خان او دریا خان ترې د مرکز او مورچل په توګه استفاده کړیده.

**کړپه:** د کوچنیو غونډیو هغه سلسله چي ایمل خان پکي مغلو ته ماتي ورکړې او بیا وروسته د مومندو لښکرو پکي انګریزانو ته ماتي ورکړیده

**اقرب ډاګ:** دبیلابیلو تیري کوونکو سره د مومندو دتاریخي جنګونو اوغزاګانو ډګر وو. دکنړد غازیانو ډلو او ددوې مشر غازي میرزمان خان هم داقرب په ډاګ کې د انګریزي قواوو سره جګړې کړیدي.

**تاتره:** چي د مغلو لښکرو پکي دایمل خان مومند سره څو څو ځل جګړې کړیدي .

**دشبقدر قلا:** انګریزانو لدې ځایه دمومندو سره ډیرې جګړې کړیدي. دهډې ملا صاحب د مومندو دلښکر سره پدې قلا حمله کړې او په ۱۸۹۷ کال کې یې دشبقدر ښارګوټي سوځولې هم وو.



د انګریزانو سره دکړپې په غاښي کې دمومندو دیوې جګړې انځور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ



دشبقدر قلا د غازیانو تر حملې لاندې

**مشهور شخصیتونه**

دنورو پښتنو قبیلو په شان د مومندو قبیله هم  د توري او قلم داسې ګڼ شمیر میرني شخصیتونه لري چې نه یوازې په خپل مسلک کې د ویاړ او اعتبار خاوندان دي، بلکه د پښتنو د تاریخ او کلتور په غني کولو کښې یې خاصه ونډه اخیستې او د ځلاندو ستورو په شان ځلیږي.

دانګریزی استعمار په وړاندې د مومندو د خپلواکی غوښتونکو مبارزو په ډګر کې د برخه اخیستونکو ځینو وتلو شخصیتونو او مشرانو نومونه په لاندې ډول دي:

**احمد نور خان  ملک** د میټی موسی خیل وو چې د انګریزانو دیو پلوي غیرت خان ملک سخت مخالف وو. په ۱۹۲٤ کال کې وفات شویدئ.

**اسمعیل مولوي** چې هغه هم د کامي په ملا مشهوره وو.

**انځرې ملا (سید غوث)** چې په ګوډ ملا هم مشهوره وو، د هډې د ملا صاحب مرید او دانګریزانو سره د ۱۹۰۸ کال په جګړه کې  برخه اخیستونکې د ۱۹۱۰ کال په شاوخوا کې  وفات شویدئ.  انګریزانودده کور د باغ په سیمه کې د یوې حملې په ترځ کې وران کړې وو.

**حاجي میاجان خان** چې د ملک محمد عمرخان کوډاخیل ورور او داروابناد میراجان سیال پلار وو.

**حلیم ملک** د خیرجان ملک پلار عیسی خیل وو.

**د "پلوسی" محمد قدیم** چې په خویزو کې یې ډیر نفوذ درلود.

**عبدلباقي** چې د هډې د ملا صاحب شاګرد او د کامي په ملا مشهوره وو. په ۱۹۱۲ کال کې وفات شویدئ.

**د خاورینی اعظم خان ملک** چې په ۱۹۱۲ کال کې وفات شویدئ.

**د دویزیو د حاجي خیلو حاجي صاحب**  چې د افغانستان د حکومت تینګ پلوي وو.

**د عیسی خیلو بادام ملک** چې دملک شیرداد خان پلار وو.

**د کوډاخیلو خالو ملک**.

**د کوډاخیلو ملک عمر خان** چې د بازوان خان زوي او د اروابناد میراجان سیال تره وو. دانګریزانو سخت دښمن او دهغوی سره د ۱۹۳۳ م کال په جګړه کې شهید شویدئ .

**د"جروبي"  خیر دین** چې په بئیزو کې یې نفوذ درلود.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**داتمان خيلو دگمبتی ملک میرباز خان** چې د۱۹۰۸ کال په جگړه کې ټپي شوی او وروسته یې د انګریزانو لخوا کور وران شوی وو.
**دهزارناو علم دین ملک** چې دشبقدر په قلا د حمله کوونکي شکر ملک ورور وو.
**صاحب زاده هاشم** چې د کامي په حاجي صاحب او پاچا صاحب مشهوره وو، د باجوړ په "مرخنی" کې اوسیده، د ۱۹۰۸ کال په جګړه کې یې برخه اخیستي او په ۱۹۱۰ کال کې د انګریزانو د پلوي ملکانو په ځپلو کې ونده درلوده.
**عبدالغفور د"باجوړ" د "دودار" اوسیدونکي** چې په جان صاحب مشهور وو. د ۱۹۰۸ او ۱۹۱۵ کال په غزاګانو کې یې برخه اخیستې او دانګریزانو پلوي ملکانو سره یې سخته مبارزه کوله.
**عبدالواحد ملک** موسی خیل چې په ۱۹۲٤ کال کې وفات شویدئ.
**مستان ملا (سعدالله)** چې د سوات په فقیر او سرتور فقیر هم مشهوره وو او انګریزانو به ورته (Mad Mullah) ویلو.
**ملک محمد روز کوډاخیل** چې د غازي ماسل خان (محصل خان) د تره زوي او مخالف وو.

**دلالپوری سعادت خان مورچه خیل**

دلالپوري مشهور خان، سعادت خان مورچه خیل، د سعدالله خان زوی او د انګریزانو سخت دېښمن وو. سعادت خان د افغانانو او انګریزانو د لومړنی جګړې په دوران کې په میچنی، شبقدر او اقرب ډاګ کې دانګریزانو سره جګړې کړیدي. په ۱۸٤۱ م کال کې په افغانستان باندې دانګریزانو د حملې په وخت کې سعادت خان د مومندو د لښکر په مشرۍ دتیري کوونکو قواوو سره جګړه وکړه. کله چې انګریزانو کابل ونیوو، نو سعادت خان هم دلالپوری پریښودو ته مجبوره شو، خو دانګریزانو په وړاندې یې خپلې مبارزې ته دوام ورکړ. په ۱۸٤٤ کال کې دانګریزانو دماتې نه وروسته سعادت خان بیرته لالپوری ته راستون شو. په ۱۸٦٤ کال کې په میچنی کې د انګریزانو په قواوو د حملې نه وروسته سعادت خان دانګریزانو په غوښتنه دامیر شیرعلیخان لخوا کابل ته استول شوی او هلته په کور کې تر مرګه پورې نظر بند وساتل شو. امیر شیر علی خان دسعادت خان دلور قمرجانې سره واده هم کړی وو چې دمیوند مشهور فاتح غازي ایوب خان او د ګندمک د کرغیړن قرارداد امضا کوونکي امیر یعقوب خان دهمدې مومندې ښځې ځامن وو.

**د ترنګزو حاجي صاحب سید فضل واحد:**

سید فضل واحد چې وروسته د ترنګزئیو په حاجي صاحب مشهوره شواصلاً په ۱۸۵۸م کال کې د پیښور د چارسدې د ترنګزئیو د سیمې په "نوي کلي" کې زیږیدلي وو. ددیني زده کړو تر ختمیدو وروسته خپل کلي ته ستون شو او د ریاضت په څنګ کې یې په کر کیلي پیل وکړ او دآزاد سرحد په سیمه کې دانګریزانو په وړاندې جنګیدونکو غازیانو د مشرانو سره آشنا او په دې ترڅ کې یې د کنړ، مومندو، او باجوړ د غازیانو د ډلو د مشرانو سره لیدنې کتنې وکړی اود دهډې صاحب د ملا نجم الدین آخندزاده سره یې هم له نژدې وکتل او د دهغوی د فیض نه یې برخه واخیسته.

دلومړۍ نړیوالې جګړې دپیل کیدو نه وروسته، کله چې انګریزان هم په جګړه کې شامل شول، او دخلافت تحریک او شمال مغربي ایالت د اوسیدونکو آزادۍ غوښتونکو مبارزو شدت وموند، نو انګریزانو د ترنګزئیو د حاجي صاحب د نیولو امر وکړ. حاجي صاحب ته د انګریزانو دپلان او دده د نیولو خبر ورسید، نو ځکه یې دخپلو دریو ځامنو او یو شمیر ملګرو په ګډون د مومندو سیمې ته هجرت وکړ. د مومندو "سور کمر" سره نژدې د حاجي صاحب د اوسیدو سیمه د انګریزانو په خلاف د مجاهدینو په یوه مرکز بدله او د"غازي آباد" په نامه مشهوره شوه.

دترنګزو حاجي صاحب دانګریزانو سره د افغانانو په دریمي جګړې کې هم د شبقدر او ډکې په سیمو کې برخه واخیسته. هغه د ۱۹۳۷م کال ددسمبر په ۱٤ نیټه له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې او د غازي آباد د جومات په انګړ کې خاورو ته وسپارل شو.

**دبابړي ملا صاحب سید امیر جان:**

دبابړي په ملا صاحب مشهور، سید امیر جان، دقادریه دطریقې یو وتلي عالم او دهډې د ملا نجم الدین آخندزاده صاحب یو داسې مرید وو چې په تولو ملي مبارزو کې یې ورسره برخه آخیستله. دانګریزانود ښکیلاک دغه سرسخته مخالف په ۱۸٤۵م کال کې د لیټی په کلي کې زیږیدلي، لومړني دیني زده کړې یې په خپل کلي کور کې دملاما صاحب په نامه یوه عالم نه ترلاسه او دزیاتو زده کړو دپاره اسمار او نورو سیمو ته لاړ. دزده کړو د ختمیدو نه وروسته د"باجوړ" دسیمې د "چارمنګ" ددرې د "بابړې" په کلي کې میشت او دبابړي دملا صاحب په نامه مشهوره شو.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

دبابړي ملا صاحب په ۱۹۰۲م کال کې د هډې د ملا نجم الدین آخنذاده صاحب تر وفات کیدو وروسته دانګریزانو په وړاندې خپلو وسله والو مبارزو ته دوام ورکړ او دباجوړ دسیمې د خپلواکې غوښتونکو قواوو مشري وربه غاړه شوه. هغه د "لکړو"، "اقرب ډاګ" او "شبقدر" په بیلابیلو جبهو کې دانګریزانو سره جنګیدلی دئ . پدې ترځ کې د مومندو، ترکانیو، او اوتمانزو دقامونو په ګډون، د "شبقدر" په سیمه کې په انګریزانو د ۱۹۱۵م کال د مشهورې حملې دخاطرو او کیسو انګازې لا تر اوسه هم د آزاد سرحد په مختلفو سیمو کې اوریدل کیږي.

دبابړي ملا صاحب د ۱۳۰٤لمریز هجري کال د روژې په میاشت کې د ۸۰ کلنی په عمر وفات او د"چارمنګ" د "ګل آباد" په کلي کې خاورو ته وسپارل شو.

## دکوډاخیلو ماسل خان (محصل خان) ملک

ماسل خان (محصل خان) مومند د حاجی محمد امین کوډاخیل پلار او دفضل المنان کوډاخیل نیکه، په قام مومند، په مومندو کې اتمر، بیا کوډاخیل او په کوډاخیلو کې مستي خیل وو.

غازي محصل خان مومند د انګریزانو سخت مخالف او د هغو سره په پرلپسې جګړو کې د مومندو د غازیانو یو وتلي مشر وو. هغه د استقلال په جګړه کې هم د ډکې په محاذ کې درنه برخه درلودلې ده. انګریزانو په خپلو استخباراتي اسنادو کې غازي محصل خان مومند ته د مومندو د برید کوونکو ډلو د زړه ور او بې باکه مشر خطاب کړی دئ. محصل خان مومند د انګریزانو سره د دښمنی او مبارزو له امله په اولس کې بشپړ محبوبیت ترلاسه کړي او په اولسي سندرو او غزلو کې به یې ستاینه کیږي.

## کاکا جي صنوبر حسین مهمند

کاکاجی صنوبر حسین دهند د نیمي وچې د خپلواکۍ د بهیر مخکښ غړي، د پښتونخوا نومیالي سیاستمدار، هغه منوره ادیب، شاعراو ژورنالست ؤ چي یوازېپه ژبه او قلم نه، بلکي په عمل کي یې هم دازادئ په جګړه کښې عملي برخه اخیستي وه، او د ژوند زیاته برخه یې دانګریزي استعمار سره په مبارزه کې تیره کړه.

کاکاجی صنوبر حسین مومند په ۱۸۹۷ م کال کښې پیښور سره نژدې په "کړه وله" نومې کلی کښې زیږیدلي وو. هغه د ابتدائی او متوسطه تعلیم د حاصلولو نه وروسته په ښونځي کې د استاد په توګه مقرر شو، خو د خپلو انقلابی افکارو اوانګریزانو سره ددښمنی له امله یې ډیر ژر سرکاري کار پریښود، او په سیمه کې یې د دهقانانو او مزدورانوپه تنظیمولو سره دهیواد دازادئ په عملی سیاست بوخت شو. هغه لومړي دخدائی خدمتګار او بیا دکانګرس دسیاسي ګنګ لارو پیروي کوله، خو دخپل تیز او انقلابی خوې او خاصیت له امله هلته پاتي نهٔ شو.

کاکاجی دعدم تشدد د سیاست سره موافقه نه درلوده او هغه یې دوخت او حالاتو مطابق نهٔ ګڼلو. هغه دانګریزي استعمار نه سخت نفرت درلود او دانګریزانو د ملګرو او د تالی څټو خانانو، اربابانو او جاګیردارانو خلاف مبارزه یې دخپل سیاست اصلي مقصد ګاڼه. دهند انګریزی حکومت کاکاجی د څه مودې دپاره بندي کړ. له زندانه د خلاصیدو وروسته دوطن او خلکو سره دهغې مینه او دانګریزانو نه نفرت نور هم زیات شو. هغه دیوه تینګ سیاسي تنظیم د جوړولو ضرورت درک کړ او د "سیلاب" په نامه د یوې اونیزې په خپرولو یې لاس پورې کړ. انګریزانو نه یواځې د "سیلاب" په خپریدو بندیز ولګولو، بلکې د کاکاجي دبیا نیولو هڅې یې هم پیل کړې، نو هغه د بندي کیدو نه د ځان د ژغورلو او انګریزي استعمار په وړاندې د مبارزې د جاری ساتلو دپاره د پټې (زیرزمیني) مبارزې لار غوره کړه. کله چې په کاکا جي دکار کولو ساحه نوره هم تنګه شوه، نو د ملګرو په مشوره دآزادو قبایلو سیمې ته لاړ. هغه لومړي په باجوړ کښې دیره شو اوبیا په غازي اباد نومې کلی کښې دازادئ دیوه بل سترغازي حاجی صاحب ترنګزیي سره ملګرې شو، او دازادئ جدو جهد ئې په بله بڼه جاري وساتو.

ځرنګه چې کاکاجی صنوبر حسین مهمند په اصل کې یوربښتوني انقلابي ادیب، پوه او ژورنالست ؤ او د هغه وخت د مطبوعاتو په ارزښت او اهمیت ښه پوهیده، نو ځکه یې په خلکو کښې دسیاسی شعور د پیدا کولو او دازادئ په قیمت او اهمیت د هغوئ د پوهولو دپاره د "شعله" نومې یوې مجلې د خپرولو کار پیل کړ. دا مجله به د "المجاهد" د خپروني په شان په لاس جوړې شوې مطبعي کې چاپیده. درسالې لیکونه به دکاکاجی خپل ؤ. خبرونه، تبصرې او مضمونونه به ئې هم لیکل.

کاکاجی په ۱۹٤۷م کال کې دپاکستان دجوړیدو نه وروسته بیرته پیښور ته راغئ او دخپل انقلابی ملګری صاحبزاده اسلم خان شهید په نوم ئې د "اسلم" په نامه مجله خپره کړه، خو بیا وروسته دا مجله هم د "سیلاب" په سرنوشت اخته

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

او د حکومت د بنديز سره مخامخ شوه. کاکاجي په پښتونخوا کښې دترقی پسند ادبی تحریک په بنسټ ایښودونکو کې شامل ؤ او دانجمن ترقی پسند مصنفینو (ترقي غوښتونکو ليکوالو د ټولنې) په جوړولو کښې ئې برخه واخسته. هغه په ۱۹۵٤ م کال کې دټولنې د مشر په توګه بندي کړای شو. هغه د اولسی ادبی جرګې په جوړولو کښې هم مهم رول ولوباوه.

کاکاجي صنوبر حسين د ژوند تر پايه په پښتونخوا او پاکستان کې د نوي استعماري نظام په خلاف قلمی او سیاسي مبارزې ته ادامه ورکړه. هغه د چارواکو د سترګو اغزي ګڼل کیده او له همدي امله د ناروغی او بوډاتوب سره سره په ۱۹۵٦ م کال کې بیا ونیول شو او دجيل نه دلاهور دشاهی قلعه اذيت خانې (دشکنجې ځای) ته واستول شو چرته چې دزړه او ساه لنډی په رنځ اخته شو. خو حکومت ترې بيا هم ويره کوله، او تر هغه وخته يې بندي وساتو تر څو چې يي د ژوندي پاتې کيدو هيله له منځه لاړه.

کاکاجي صنوبر حسين، د ۱۹٦۳ م کال د جنوری په دريمه (۳) نيټه ددې فانی نړی نه سترګې پټې کړې او په خپل پلرني کلي "کړه وله" کې خاورو ته وسپارل شو. روح دې ښاده اوسي.

## میراجان سیال مومند

اروابناد میراجان د حاجي میا جان زوی او دملک بازوان لمسي د ۱۹۱۲م کال دمارچ په میاشت کې دمومندو په کوډاخيلو کې زيږيدلي، او دليکوالی او شاعری په مهال يې ځانته د "سیال" تخلص ټاکلي ؤ. نوموړي دوديزه او لومړنی زده کړې په خپل کور او کلي کې له ګڼو استادانو څخه ترلاسه کړي، په پښتو، فارسي او اردو ژبو کې يې ليک لوست کولای شو او يو څه په عربي او انګريزي ژبو هم پوهيده.

ښاغلي سیال او دده کورنی تل دانګریزانو داستعماري سیاست مخالفت کړې او دهغو په مقابل کې يې په غزاګانو کې درنه برخه اخيستي ده. د ده دوه مشهور ترونه ملک محمد عمر خان او ملک خان جان هم په همدې غزاګانو کې شهیدان شوي دي. اروابناد سیال خپله سیاسي روزنه د ښاغلي کاکاجي صنوبر خان مومند مرهون ګڼي.

سیال مومند د انګریزانو په مقابل کې په ملي آزادی بخښونکو غزاګانو کې سربيره پر فکري، نظرياتي، تنظیمي او قلمي خدمتونو د جګړو ډګرونو ته هم ورغلي او عملي برخه يي اخيستي ده. مثلا په ۱۹۲۷م کال کې د فقيرصاحب په غزا کې، په ۱۹۳۰ کال کې دېنډونو په غزا کې، په ۱۹۳۳م کال کې دګنداو په لومړنی غزا کې او په ۱۹۳٥م کال کې دګنداو په دويمه غزا کې عملا شامل و".

اروابناد سیال د"ويښ زلميانو" د ډلي غړيتوب درلود، د هند دنيمي وچې تر ويش دمخه يي د "مومند" او "الغازي" په نامه خپرونې کړي او د پاکستان دجوړيدو نه وروسته يي د"لوی پښتون" مجله تاسیس او چلولي ده. دا مجله لومړی په جلال آباد کې د اتحاد مشرقي په مطبعه او بيا وروسته په کوډاخيلو کې دجوړې شوې مطبعي په ذريعه چاپيدله او دويښ زلميانو ليکوالو او شاعرانو به هم ورسره مرسته کوله.

اروابناد میراجان سیال په ۱۹۹۰ م کال کې په پیښور کې دورپيښې ناروغی له امله دژوند پور ورلنډ کړ. دده نه تر شلو زيات څيرنيز او تخليقي پښتو آثارپه ميراث پاتې دي. دده په چاپ شوو آثارو کې دوه دميني شهيدان، دمومندو غزاګانې، ديښتنو قبيلو شجرې، ايمل خان مومند، په افغانستان کې مهمې تاريخي پيښې، زما انديښنې، دريا خان اپريدي، په نولسمه پيړی کې دافغاني تاريخ يوه برخه، دپښتونخوا شتمنې، پښتنې غړونه، دسیال کليات او په پښتنو پردو څه کړي کتابونه او رسالي شامل دي.

(نوربيا)

## منابع


۱. Hussain S. Iftikhar (2000). Some major Pukhtoon tribes along the Pak-Afghan border. Area.
(دپاک – افغان په پوله څنې پښتنې قبيلې) ، ۹۵ مخ.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ